شریعت

ورځپاڼه

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

سیره کال (٦١) مه گڼه پرله پسې (١٤٤٠) یکشنبه د ١٤٢٢ هـ ق کال د جمادی الاول (٢٩)
د ١٣٨٠ هـ ش کال د اسد د میاشتې (٢٨) د ٢٠٠١ میلادي کال د اگست (١٩)

الهی فرمان

ترجمه : ای هغو کسانوچې ایمان مو راوړئ که مو فاسق څه خبر درته راوړی نو پلټنه کوئ هسې نه چې کوم قوم ته په ناپوهی سره څه تکلیف ورسوئ او بیا په خپلو کړو پښېمانه شئ
(الحـــجــــرات - ٦)

د شریعت ورځپاڼې د لیکنی شیأت او کارکوونکی د هیواد دخپلواکـــی د بیرتـــه اخیـــستلو د ٨٢ کلیزې له امله دعـــالیـقـدر امیـرالمؤمنین درانه حـضـور ، زړورو سنگر ساتونکو او د افغانستان مجاهد ، پر خدای مین او باشهامت ملت ته د زړه له کومې مبارکي وایي .



د گــــــران هیـــــواد د خــــــپلواکی د ٨٢ کلیـــــزې په ویاړ

دافغـــان انگلیس د دریمې جگړې یو هیر یادښت

انگلاله هري نیسی پسیږی ورووسته افغانان با له بهرنی تیری سره مخامخ شوي او باهم د کورني اوږدو او جگړو اور پرې بل شوی او هیواد یې د بدمرغیو ، سیاسي بې ثباتي او تریگنیو د تاورین کوسي ته اچولی دی .

داسې هیواد چې د زېرخواکونو ترمنځ دلویې لوبې ستیج گرځیدلی او له دې اړخه اقتصادی ، سیاسی او ټولنیز وروسته والی پرې تپل شوی دی . چې د دې ټولو ترشا د بهرنیو اړخونو د گټو او اغراضو تور سیوری پروت دی .

د سروزړو مرغی (هندوستان) په لاندې کولو پرنگي د افغانستان په لور پښې اوږدې کړې دا داسې مهال ؤ چې د واک پر سر جگړو احمدشاهي امپـــراتوري کمـــزوري او له

٢ مخ

ازلندن تا کرملین

تاریخ افغانستان تاریخ تنگ ها ورزم ها و تاریخ جهاد در راه دین وآزادیست .

مشخصه و نمونه مبارزات افغانها ، علاقمندی آنها به دین و وطن خویش است که نمونه بارز آن سینه های افغانهای باشهامت است که آنرا سپر مستحکم در برابر پیکان های خونین متجاوزین ساخته و با سنگ وناخن در مقابل مدرن ترین اسلحه روز قیام نمودند و از نعمت بزرگ خداوند یعنی آزادی دفاع جانبازانه نمودند .

تاریخ پر افتخار افغانها شاهد و گواه روشن این حقیقت است که اگر سکندر مقدونی بود یا چنگیز ، اگر اشغالگران بریتانیای کبیر بود و یا لشکر سرخ قوای متجاوز شوروی که میخواست تا این سرزمین را جزء قلمرو خویش ثبت تاریخ نماید و مردم این سرزمین را غلامان خویش

ص ٤

دخپلواکی سنگر

٣ مخ

د آزادۍ ناوی

مرد هیزم فروشی که غازی و شهید شد

جنگ دوم افغان وانگلیس که دنباله ، همان جنگ اول انگلیس و افغان بودو متارکه سی وپنج ساله این جنگها را از هم جدا نمود در نوامبر ١٨٧٨ آغاز گردید .

به قول میر غلام محمد غبار مورخ نامدارکشور طی این جنگ سیاست پیشروی استعمار انگلیس در آسیای وسطی هنوز تغییر نکرده بود واما وسایل جنگ به نفع انگلیس و ضرر افغانستان تغییر نموده بود بدین معنی که درجنگ اول انگلیس از افغانستان دور و دولت سکهٔ پنجاب در بین حایل بود و قوای انگلیس مجبور بود که از ساحل ستلج حد فاصل سکهٔ و انگلیس تا داخل حدود افغانستان تقریباً چهار صد میل راه را با پای پیاده ، شتر واسپ طی کنند و

ص ٤



آزادی دشاعرانو په شعر ونوکی

آزادی ترپادشاهـــــــــــه لانبـــــــری کـــــــا
چې دبل ترحکم لاندې شي زندان شي
خوشحال خان ختک

شـــهــــرت د عـــقل له نامـــه د افـــلاطونه ، نه ځی
دآزادی مـــینه هیـــځکله له پښـــتـــونه نه ځی
استاد الفت

نه کلونه د غـــــــلام په غـــــــلامی کی
نه ســـــاعت دآزادی کــــــــه خنگدن وی
جنگ دآزادی ته هــــمــــیشــــه زلمی وتلی دی
تل مین په تکو ســـروا و رونوور خــــتلی دی
اکبر خادم

درباره آزادی گفته اند

* کسي که براي حفظ جان خود از آزادي صرف نظر کند لياقت آزادي وسلامتي را ندارد .
* هرکس بايد سعي کند درحيات خود خشتي محکم بر اساس کاخ آزادي بنهد .
* هرگاه ميخواهيد آزاد باشيد بايد پرستش حقيقت را پيشه خود سازيد .
* آزادي نعمتي است براي آنهايي که تلاش دارند سعي وتلاش نمايند .
* هر امري که آزادي را به مخاطره اندازد شايان قبول نيست .
* به هر اندازه، که فداکاري صادر جنگ زيادتر و دشوار تر باشد ، تاج افتخاري (آزادي) که از آن حاصل ميشود باشکوه تراست.
* فداکاري براي آزادي نامنتهي درجه، فضيلت انسان است .

داد هغو ٣٦ تنو سرښندونیکو مجاهدینو دلیږ قبردی چې د هیواد دخپلواکی د بیرته اخیستلو په لاره کی شهیدان شوی دی

به مناسبت هشتادومین سالروز استردادواستقلال کشور

سیاست تهاجمی انگلیس بر ملت افغان

انگلستان جزیره، است ، دارای اقلیم سرد و مرطوب که احتیاجات اهالی آن بسیار زیاد و وضع معیشتی آنها بسیار کم .

و بناءً مردم انگلستان شغل تجارت وصنعت را ترویج داده وایشان دلداده قدرت وقوت میباشد ،مردم انگلیس بویژه طبقه حاکم آن ، در مناسبات بین المللی سنگدل ، ظالم ، فریبنده وبی وفاست .

دولت انگلیس با داشتن کمر بند بحری ، دست هر دشمن را از خانه خود کوتا ساخته ، ولی اشتراك انگلیسها در جنگ های بین المللی بخاطردفاع از خود نبوده ، بلکه بخاطر حرص جهانگری و حصول فائده اوست .

ص ٤

سرمقاله

دلوی خالق (ج) په نامه

د غیرتونو مظاهره

هر قام او ولس چې د خپل فکری ، عقیدوی او ملی دود او رواجونو په فرهنگی لړی کې د وخت او زمان د ناخوالو پر وړاندې د خپل ضمیر او وجدان غبرگون ونه ښی نود لاي او د «هرچه پیش آمد خوش آمد» شعار ته مخه کړی نو دهسی شان قامونو او ولسونو په تاریخ کې بیا داسې څه نه لیدل کیږی چې د ویاړ او افتخار پر مهال د راتلونکی نسل لپاره د اجتماعی پدیدو پر وړاندې مثال وگرزی او تل به د ژوند برخلیک د نورو د ژوند مرهون وی .

د افغان غیور او باتور قام د تاریخی ژوند هره پاڼه چې واړوو ، نو داسی لوی افتخارات او د آزادۍ ځلی د سری ستر گوته له لری

٢ مخ

آزادی

رازآزادی دیو بیرغ نه لاندی

توله مینه مینه ده ! آزادی

٣ مخ

بختوره دې وي د افغانستان د خپلواکی ٨٢ کلیزه

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
دبيو گڼي بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
تيلفون : ۲۱۳۸۱ توزيع او شکايات :۶۲۸۵۹
پست بکس : (۴۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

ستر گکو نه وهی چي هر يو يې د خپل وخت او زمان معجزه بلل کيږي او عقل او ذهن يې له تصور څخه عاجزيږي .

له خپل فکر ، عقيدې ، وطن او کلتور سره يې کچي او بې ساري مينه د دغه برمیال ولس د هر وګړي په وجدان کي داسي پخه شوی ده چي زور زياتي ، تهديد ، تخويف ، تروريزم ، نظامي يرغل او اقتصادی کلابندی او ... هيڅ يو هم پرې نه توانيږي تر څو د دغه بې مثله مينې پر وړاندی څه خنډ پيدا کړي او يا يې له خپل انقلابي بهير څخه په کړه لاره سوق کړي .

د اسلام له راتګ څخه وروسته جهاد او د غير الهی نظامونو او دهغوی نظامي او فرهنګی يرغلونو پر ضد په هر د ضرورت وخت کي داسي کارنامی سرته رسولی دي او د اسلام د آزادی او له خپل فکر څخه د دفاع پروسه يې داسي تمثيل کړيده چي هر يرغلګر ، ماشين او زره يې پر خپل يرغليز نيت او عمل پښيمانه کړی او دجغرافيې او تاريخ له ذهن څخه يې د هغوی موجوديت د موزيم په لوري روان کړيدی .

دلته چي دنړی هر غير الهی او استشماری مفکورې د يرغل هڅه کړی ده ، په نړيوال ډګر کي يې رسوايي او ماتي نصيب شوی ده . لکه چي قادر او متعال خدای «ج» دغه غيور او برمیال ولس د بين المللی تهديدونو او ظلمونو د زوال لپاره او هم د هر ظالم او جابر له پنجو څخه د مظلومو او مستضعفو ولسونو د خلاصون لپاره پيدا کړی وی .

دستګرو يا زرو امپراطوری د افغان په سوک ړنګيږی ، د چنګيزيانو او مغولانو نوم او نښان همدلته ختم شو ، انګريزانو دری ځلی پر دغه خاوره داسي تيندکونه خوړلي دی ، چي تر اوسه پوری هم د افغان د نوم په اوريدو د هغوی ژامی کړپيږی او بالاخره دشوروی سوسياليستی لويه امپراطوری په همدغه خاوره کي د لومړی ځل لپاره په ګونډو شوه .

د زمری دمياشتی اته ويشتمه هغه ورځ ده چي د افغان ننګيالی او مجاهد ولس د خپل جهاد او اسلامی انقلاب په برېښن منطق سره د انګريزانو لويه او د وحشتونو امپراطوری د تاريخ د موزيم په لوري ورټاله کړه او تر غابو پوری وسله وال لښکر يې پر دغه خاوره داسي مرګونی ګوزارونه وخوړل او داسي تباه شو چي له برابڼ پرته يې د هيڅ نظامی او عسکری ساز او برګ احوال معلوم نه شو او له خاوروسره خاوری شول .

د ۱۲۹۸ هـ ش کال د زمری د مياشتی ۲۸ نيټه هغه ورځ ده چي افغانانو په خپل تاريخ کي دخپل ملی وحدت ، ځمکنی بشپړتيا او سياسی استقلال د تعهد پايه دخپل ايمانی عزم او جهادی برم په وسيله بوځل بيا په خپلو پاکو وينو او انقلابی ګډ ساري قربانيو تازه کړه او د دی ولس د غيرت پر وړاندی د انګريزی سامراج جنګی کښتی داسي ډوبه شوه چي تولو نړی ورته حيرانه شوه .

هوکی ! د زمری دمياشتی ۲۸ مه نيټه دادی په داسي حال کي غانځو چي نن زموږ په ګران هيواد افغانستان کي دنړی د سری امپراطوری د عسکری ماتي خوړلی ځواک د ټانکونو او طيارو ټوټی هم پرتی دی او دسوسياليزم خيالی نه ماتيدونکی امپراطوری د تل لپاره د مجاهدو او انقلابی غازيانو پر لاس ړنګه شويده .

په داسي حال کي چي د افغانستان اسلامی امارت له انګريزی سامراج څخه د استقلال د ۸۲ مى کليزی په مناسبت ټولو مؤمنو او باتورو مجاهدو غازيانو ته خپله د زړه له کومی مبارکی وايی ، يوځل بيا له ګران او مؤمن ولس څخه هيله کوی د خپلو پلرونو په شان د جهاد او اسلامی انقلابی مستی نغمی او ترانې په خپلو زړونو کي مستی وساتی او دغه لوی فرهنګی افتخار په پوره امانت او ايمانداری وروستيو نسلونو ته وليږی او همداشان د اسلامی انقلاب د ساتلو او نړيوالو دښمنانو او منافقينو اصلی څيرو ته په ځير و اوسی او د هری نقشی پر وړاندی هوښيار و اوسی ، ځکه د انقلاب ساتل هم د جهاد او انقلاب په شان زموږ ايمانی او عقيدوی وجيبه ده او په دې لاره کي درته بشپړ بری غواړو .

دافغان-انگلیس ددریمی جگړې ...

پرنگي د مخه تري سکانو بيلابيل هڅونه پری کړی ؤ خو د پرنګی ښکيلاک په دګه سيمه کي د خپل زوال له منطقي انجام سره مخامخ شو افغانانو د يوه تاريخي او لرغونی ملت په توګه له همداغه پيله د انګريزي تيري پر وړاندي ودريدل او د افغان انګليس د دريو جګړو تاريخ يې رامنځ ته او د هغه امپراتوری د ماتی لوری يې په ښه کړ چي په قلمرو کي يې لمر نه ډوبيده .

پرنګی کله د زور او کله تزوير له لاری د دغه اتل ملت د ايلولو هڅې کړې خو د پردی تيري پر وړاندی يې د افغانانو د ملی پاڅون مخه و نشوای نيولی ، دغه پاڅونونه کله دومره پاريدلي چي له تيري کوونکو پوځونو بواځي يو ډاکتر نيم ژوندی د خپلو ځواکونو تر مرکزه رسيدلی او د زرګونو په شمير لښکر يې يو پنا شوی دی . په دې اړه د ليدې سيل باد دښتونو د دغه ملی پاڅون په زړه پوري او رښتيني انځور ګري کړيده .

دلته د افغان – انګليس د دريمي جګړې په اړه د يوه هندي ليکوال ظفرحسن آيبک د يادښتونو پانې اړوو او د پرنګی ښکيلاک نه د ګران هيواد د خپلواکی (۸۲) کليزه پرې لمانځو :

... د جنوبي محاذ قوماندان سپه سالار محمد نادرخان ؤ چي دری برخی يې لرلی د ښی اړخ (وزيرستان) قوماندان شاه ولی خان او د کيڼ اړخ (شمال) کرمی او څيرمه سيمو قومانده د شاه محمود خان پر غاړه وه ، منځنی برخه چي د خوست ساحه او دعمومی قوماندی مرکز ؤ په خپله سپه سالار محمد نادرخان يې لارښوونه کوله . دغه محاذ پر هغو انګريزی لښکرو د يريد لپاره په پام کي نيول شوی ؤ چي په کرمه وزيرستان او کوهاټ کي پراته ؤ . پلان داسي ؤ ترهغې چي په دری واړو محاذونو کي ځواکونه ځای پرځای شوی نه وي او د يريد عمومی قومانده نه وي ورکړی شوی هيڅ يو محاذ به عمليات نه پيلوی .

د ۱۹۱۹ کال د مى په لومړيو کي سپه سالار محمد نادرخان له ګرديز نه له روانيدو دمخه خپل ورور سردار شاه ولی خان د ارګون قوماندان وټاکه او هغه لوری ته يې وليږه ، سردار شاه محمود خان يې د پيواړ محاذ د قوماندان په توګه واستاوه – د دغو دريو وروڼو د مخه ښې منظره ډيره غمونکی وه . دری واړو په اوښلو سترګو خو مصمم او پريکړو څيرو يو بل په غيږ کي ونيو او دسوبې او نصرت دعاګانی يې وکړی . دوی پرکچرو بار دوو توپونو او يو ټولي عسکرو سره وخوځيدل خپله سپه سالار له دوو جرمني هرتز توپونو چي په هژده پن سره يادېږی د خوست په لور وخوځيد – دی پر سپين آس سپور د لښکر په سرکي روان ؤ . ټوله ورځ يې مزل وکړ ، ايله يو ساعت د غرمی ډوډی او لمانځه ته تم شوو ، پرشپږمه ورځ لښکر خوست ته ورسيد او د متون غونډی (دخوست ولسوالی مرکز) کي يې واړول . لايوه شپه يې نه وه وتلی چي

خبر را ورسيد جنرال صالح محمد خان يې له دی چي ټاکلی پلان او پروګرام په پام کي ونيسي له تورخم سره د خيبر دری په خوله کي پر هغه چينه يريد کړی چي دواړو غاړو لا دمخه يو بل ته غاښونه چيچل – افغانی لښکرو تر لنډی کوتله سيمه لاندی کړی وه چي پيښور يې هم تر کلابندی ګلاتدي نيل کيده – که څه هم دغه خبر خوښوونکي و خو دا انديښنه هم ورسره وه چي د ختيځ محاذ جګړه په داسي وخت کي پيل شوه چي جنوبی محاذ لا د يريد لپاره د دوو دريو ورځو واټن په مخ کی لری – د کندهار محاذ قوماندان لا هغې سيمې ته نه دی رسيدلی ، ځکه خو دا انديښنه رامنځ ته شوه چي د ختيځ محاذ يريد به ټول جنګی پلان ګډوډ کړی . که څه هم صالح محمد خان د سپه سالار محمد نادرخان مرستيال ؤ چي دادې پری دمخه شو ، خو سپه سالار په خپل لښکر کي دغه پرمختګ ته په ډيره خوښی هرکلی و وايه او د دښمن پر لوري د هژده پن توپونو ډزی وکړی څرنګه چي د ګوليو مسير قوسی ؤ له غره واوښتی او پر ټاکلی هدف ولګيدی . د لښکر جذبات نور هم و پاريدل دلته ؤ چي سپه سالار لښکر ته وينا وکړه او د هيواد د آزادی جهاد ته يې د ولسونو دچمتو کيدو په اړه خبری وکړی خبره داسي وه چي ځنو قبايلی ځوانانو پرخپل سر پر لنډی کوتل يريد کړی ؤ خو څرنګه چي يريد د کوم دقيق پلان له مخي نه ؤ کوم ځانګړی پرمختګ ته ونه رسيد . سپه سالار په متون کي د کچرو او آسونو د خوراکي د ترلاسه کولو په لټه کي شو ، دلته يې هغه نقشه هم ترلاسه کړه چي د پرنګی پوځونو موقعيتونه پکي ښودل شوی وو . سپه سالار دلته له ډيرو ستونزو سره مخامخ شو . د خوست ولسوال سره له دی چي مخکي خبر ورکړل شوی ؤ نه يې غله او خوراکي مواد زيرمه کړي ؤ او نه يې پوځيان چمتو کړي ؤ . داهم څرګنده شوه چي د دغو پوځيانو ته د څو مياشتو تنخوا هم نه ده ورکړ شوی ، چي پوښتنه وشوه په خزانه کي هم څه نه ؤ پاتی – سپه سالار تر ټولو د مخه هغه پيسی چي له کابل نه يې ورسره راوړی وی د عسکرو تنخوا ورکړه – نوری پيسی يې د سيمی له خښو مخورو پور کړی او دم ګړی يې پری کار وچلاوه .

مسعود قوم او وزيرو د واڼه پر پوځی کلاګانو يريد وکړ – مليشو هم ځوکی او پوستی پرې ښې وي پوشمير يې له سردار شاولی خان سره يوځای شوی ؤ وزيرو مسعودو دټيلفون تارونه شلولی او ستنې يې نسکوری کړي وي .

په همدی وخت کي له کابل نه په رسمی توګه د ختيځ محاذ په اړه خواشينوونکي خبرونه راغلل . صالح محمد خان چي د بم په چره

بې پښه ټپی شوی وه لښکر پرېښی ؤ . د پرنګی ځواکونو پر افغانی لښکرو يريد کړی او ډکه يې لاندي کړي وه آمر امان الله خان امر کړی ؤ چي سپه سالار سملاسی پر هندوستان يريد وکړی چي له ډکي وړاندي د پرنګی پوځونو د پرمختګ مخه ډب شي .

سپه سالار د جلال آباد محاذ له خبرونو سره ډير خواشيني شو . پريکړه وشوه دغه خبر له لښکر نه پټ وساتو .

په متون کي سپه سالار نقشه يوځل بيا وکتله او دهغې له مخي يې پر غليز پلان جوړ کړ په متون کي له څلورو شپو ورځو وروسته سپه سالار د حرکت فرمانده ورکړه . يو غنډ لښکر او دوه هژده پن جرمني توپونه په سپه سالار پسې و خوځيدل . خو د توپونو باروت دومره ؤ چي د يوه لپاره هم بسنده نه بلل کيدل ځکه خو يې يو ترې پريښود .

بله ورځ لښکر هغه کلی ته ورسيد چي په بوله کي د پرنګی پوځ له ستګرونو سره په ټل او ميرانشا کي ايله ديوې ورځي پلی مزل واټن ؤ . دغه سيمه اوبه نه لری . ونې نه شته چي تر سيوری لاندې يې کينو ، سپيره ډاګ ؤ . ماښام سپه سالار خپلی خيمی ته ور وغوښتم د شورباز ار حضرت صاحب هم ؤ . له موږ نه يې د خپل جنګی پلان په اړه مشوره وغوښته . يوه شوم چي سپه سالار ځان څومره بوازې ګڼی . موږ څه ويلای شوای وروسته يې خپل پلان دا وڅرګند کړ .

پښتنيز يرغل به يا پر ټل ترسره کوو يا پر ميرانشاه . که پر ميرانشا يريد وکړو د وزيرو ملاتړ به راسره وی او تر متون به افغانی لښکرو ته لار پرانيستل شی چي پنجاب ته ننوتل هم شونی کيدای شی ، خو دلته يوه خبره شته هغه داچي په کوهاټ کي د پرنګی ځواکمنه چونی ده وکولای شی د ټل فرقه وليږدوی او د پيواړ له لاری د پيواړ پر کوتل يريد وکړی ، که پرنګيانو پيواړ لاندی کړ نو بيا به د ځاځيو او لوګر له لاری په ډيره اسانی د کابل پر لور پرمختګ وکړی ، خو که په خپل ټول ځواک ټل بازار تر يريد لاندې ونيسو نو له دی لاری به د پيواړ او کوهاټ ترمنځ واټن د پرنګی ارتباط پری او پر کابل به د پرنګی د يريد مخه ډب شی . له دی سره به افغانی لښکر د کوهاټ په لور مخه او پيښور به کلابند کړی دلته هم يوه انديښنه شته يې په پام کي ونيسو چي پرنګيان به د ميرانشاه له لاری پر متون يريد وکړی او افغانی ځواکونه به د ټل او متون ترمنځ کلابند کړی .

سپه سالار د خپل جنګی پلان له څرګندتيا وروسته وويل : زه د ميرانشاه له لاری د پرنګی ځواکونو پرمختګ او پر متون يريد دومره شونی نه ګڼم . د هندوستان حالات ډير کړکيچن دي پرنګيان نشي کولای دا ډول يريد ترسره کړی ، ځکه خو زه تصميم لرم پر ټل يريد

وکړو . خو له دی سره داهم اړينه ده چي پرنګيان له پوځی پلوه وغولوو هغه داچي داسي چلند وکړو چي دښمن دا وګڼي چي موږ ګڼی پر ميرانشاه بشپړ يريد ترسره کوو ، ځکه خو زه همدا نن شپه يو ټولی له دوو توپونو سره د ميرانشاه په لور استوم . هغوی به له سپيده داغ سره د سپين وام پر پوځی کلا چي د ميرانشاه او ټل ترمنځ پرته ده يريد وکړي ، په دی توګه به انګريزی ځواکونه داسي وګڼي چي ګڼی د افغانی لښکرو ډيرى لښکر خپل شبخون ترسره کړ او جګړه يز ځواکونه يې ميرانشاه تر يريد لاندی نيسي .

دغسی به دوه نور توپونه له يوه لښکر سره ټل ته حرکت وکړی هغوی به يريد نه کوی بلکی د کورمی سيند دواړو غاړو ته د غرونو څوکو کی به ځای پرځای شی کله چي زموږ لښکري ټل ته ورسيدی يو ځايي يريد به پيل کړو د مى پر (۲۷) سپه سالار له خپل لښکر سره د ټل په لور وخوځيد – له څلور ساعته يون سره بيا هم موږ له ټل څخه ډير لری ؤ په همدی مهال مو د توپ ډزی تر غوږ شوی ، نه پوهيدو چي دا ولی ، لېږل شوی لښکر ته ويل شوی ؤ تر هغې چي لښکر له يوی مخی ټل ته نه وی رسيدلی يريد ونه کړی سپه سالار خپل آس قمچينه او د سنګر په لور يې پونده کړ – له څه مزل وروسته يو عسکر مخي ته راغی او د لېږل شوی لښکر دقوماندان عبداللطيف پيغام يې را ورساوه ! د منګلو غازيانو يې له اجازی پرته پر ټل يريد او د ټل او سيدونکو يې هم هرکلی وکړ – پرنګيانو هم پر غازيانو ډزی وکړې ، ځکه خو عبداللطيف خان هم د غازيانو د ننګي په خاطر د پرنګيانو پر توپچي ځواکونو د اوريل امر ورکړ – څرنګه چي توپونه زاړه او مورچل يې نشوای پټيدای د دښمن د ډزو له امله توپ ويجاړ او توپچي ټپی شو ، لښکر هم د په شانتګ په حال کي دی – سپه سالار له خپلو ساتونکو نه دوو تنو ته امر وکړ چي دمخه شي او لښکر ته د سپه سالار او نور لښکر د رسيدو ډاډ ورکړی چي مقاومت وکړی ، خو دغه دوه تنه ساتونکي چي د شاهی اردو له سورو څخه ؤ د سپه سالار له امر نه سر غړونه وکړه ويل يې موږ ستا د ساتنی لپاره ټاکل شوی يو تا بواځي نشو پريښودلای ...

سپه سالار ډير خوا بدی شو – او خپل شخصی نوکر ته يې دغه دنده وسپارله او خپل حرکت يې نور هم ګړندی کړ – سخته ګرمی وه د تويک ميلونه دومره سره شوی ؤ چي په لاس نشوای نيول کيدای . په لار کي نه کومه ونه وه نه يل سيوری موږ به لږ شيبه د آسونو تر پښو لاندی کيناستو او دغه سيوری ته به د مه شوو دغه وخت يو بل خبر را ورسيد چي د پرنګی پوځونه د کورمی له سينده پوری وتل او د عبداللطيف د توپونو سنګرونو ته يې

وړاندی تګ پيل کړ .

سپه سالار يوځل بيا د شاهی اردو عسکرو ته امر وکړ چي غرونو ته وخيژي که د پرنګی پوځونو پرمختګ وګوري يريد پری وکړی خو هغوی بيا هم هغه پلمه وړاندی کړه – په داسي حالاتو کي چي د لښکر شمير لږ او عسکر د قوماندان له امر نه سرغړوی د سپه سالار انديښنی او تهيلی نشو کولی دلته وکاوم خو د پرنګی پوځ : کورمی سيند په ځنډو کي تم شو که هغوی خپل وړاندی تګ ته دوام ورکړی وای نو حتمی خبره وه چي سپه سالار به يې له لښکر سره کلابند کړی وای . که ګورو له لری يو شمير وسله وال کسان د کورمی له سينده زموږ خواته را روان دی ، څوک مو مخي ته ورولېږه – څرګنده شوه چي منګلو او ځدرانيو بوډاګان له کسان دی چي له يو اندازی غنيمتونو سره راګرځيدلی دی سپه سالار غوښتل هغوی بيرته وګرځوی ځکه خو يې هغه څه چي ولجه کړی ؤ د دوی په مخ کي وسوځول او بيرته يې مورچل ته وليږل .

ماذيګر مهال د لښکر نيمايی برخه دجګړې ډګر ته رسيدلی وه ، تر ماښامه مجاهدينو خپلې خيمې د درولی – سپه سالار هم لکه د عادی عسکرو وړوکی خيمه و دروله – په داسي حال کي چي مجاهدين د خيمو په درولو بوخت وو سپه سالار هژده پن توپونو ته دوړ مورچل په لټه کي ؤ دغه ورځ د ده تبه وه ډير ځايه دی ته اړتيا پيدا کيده چي له آس نه ګوز او پلی مزل وکړی ، د ده تبه دومره زياته شوه چي بيرته خيمی ته د تلو نه ؤ – و يې ويل شپه به همدلته تيره کړی خو ملګرو پر دغې پريکړی نا خوښی څرګنده کړه ، و يې ويل که لښکر ته دغه خبره ورسيږی چي سپه سالار په قرارګاه کي نشته د هغوی زړونه به ولويږي ، اوازی به خپری شی چي ګڼی سپه سالار پرنګيانو نيولی ، ځکه خو سپه سالار دا خبره ومنله او په ډير تکليف يې ځان قرارګاه ته را ورساوه موږ ټول ډير وږی ؤ کله چي د سترخوان وغوړيد ، پلو ، غوښه او نور خواړه کيښودل شول ، سپه سالار د دغو خوړو په ليدو امر وکړ چي ده ته همداغه خواړه چي عسکرو ته پخيږی راوړی په دې توګه په دغه ټوله موده کي سپه سالار همداغه ډوډی خوړه چي عامو غازيانو ته پخيده خو دا به بوازې د شپې له خوا رسيده د ورځي به مو پر اوبو او وچه ډوډۍ ګوزاره کوله پر سبا مو پر پيلاتو هژده پن توپونه بار کړل او مورچلو ته مو ورسول ، سپه سالار نقشه را ويسته چي د دغه ځای او ټل کلا ترمنځ واټن وټاکی لومړی مو واټن په ګزاو له هغې وروسته په متر و ټاکه ، سپه سالار خپله د ټل کلا په نښه کړه ، د توپ ګولی نښه د ټل پر کلا و منښته څرنګه چي هدف ډير دقيق نيول شوی ؤ همدا لومړنی ډز د مهمانو پر ډيپو ولګيد ډيپو اور واخيست ، د اور لمبی او تور لوګی پورته شول ، غازيانو له خوښی په جامو کي نه ځايېدل ، څو نوری

٤ مخ

چې کشور دافغانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی

دشعر او ادب ډېری

ټوله مینه مینه ده !

شاه عالم ځپاند

دا د آزادی سندره هرچاته شرینه ده

ټوله مینه مینه ده
ټوله مینه مینه ده

زمـوږ د تـاریخونو هره پاڼه پـرې رنگینه ده

ټوله مینه مینه ده
ټوله مینه مینه ده

دوخت طوفانی سیند کې د افغان کشتی ته گوره
څنگه ترې دارېږی دشیطان کشتی ته گوره نن
مونږ چې د یووالی او وحـدت نـاره اوچته کړه
کومه خوا روانه دجهان کشتی ته گوره نن
پوه دی چې دحق ناره مدام زمونږه سپینه ده

ټوله مینه مینه ده
ټوله مینه مینه ده

ای د دی وطن بچـیه ! تـاسره حساب لرم
ډک له درد وغمه مې په زړه کـې یوکتـاب لرم
وینی چې له تندې نـه وطـن زمـونږه وسولو
له ډېـر دردو سـتم ځنـی بدن زمونږه وسولو
له غرونو نه کانونه موږه هره خوا چې ځی او ځی
سیندونه دریابونه مو په هره خوا چې ځی او ځی
د دغو بدمرغیو بند اوبست په اوس کـوو که نه ؟
ستا دخپلواکی جشن دښمن باندې سنگینه ده

ټوله مینه مینه ده
ټوله مینه مینه ده

زمونږه له خبرو نـه عمل تـه ډېره تنده ده
د تورو تروږمو لپاره ځل تـه ډېـره تـنده ده
مونږه د جگړې لـه کړاوونـو نـه یـه ووځو
زر د دې زمان له طـوفـانو نونه بـه ووځو
خو گوره ای افغانه چې یو والی درنه هېر نه شی
د دې وخت د ارزښت کاروان په مشه درنه تیر نه شی
وا وره ای ځـپانـده د دښمن وضعه خوږینه ده

ټوله مینه مینه ده
ټوله مینه مینه ده

دیو بیرغ نه لاندی

ډاکټر غرنی

ترڅو چـې افـغانـان وی سنگرونه به ژوندی وی
په وینو لیـکل شـوی تـاریخونه به ژوندی وی
وطنه ستاله مینـی چې لـه تـانه قربان شوی
د هغو شهیدانو یـادگـارونـه بـه ژوندی وی
لښکرې د گورگین چې ستا په غیږ کـې تباه شوی
میونده قهرمانه ستـا یـادونه بـه ژونـدی وی
تر اوسـه دې هډوکی دې وطن کې فـریـادی دی
چنـگیزه تـر قیامته ستا ویرونه به ژوندی وی
تالار لـه سـکندر نـه په پامیر کې ورکه کړی
داده اوسـه آمـو ستـا موجونه به ژوندی وی
وطنه انگریزان دی څو څـوځـلی دی ځـبلی
خپـلواک اوسـې مدام جشنونه به ژوندی وی
مدام دې توره اوډال وی غـرنـی په دی وطن کې
دیو بیرغ نه لانـدې ولـسونه به ژوندی وی

راز آزادی !

حمید

نوای صوت موزون است ، تبار ساز آزادی
جـهان وهرچه در او هست ، بود دمساز آزادی
فغان ونالـه، بلـبل شب و روز درقفس زانست
که گردد یکدمی بـالحظـه، ، هـمراز آزادی
صـفا وزیـب دامـان جهان انس ، انسانی
نـشان مـکتب تـوحیـد ، نمـای راز آزادی
طـلسم (اسقف) رضوان فروش گردیده نقش آب
کـه جغـد شوم او رانیست ، پرو پرواز آزادی
کنـون درخرمن (مغ زادگان) آتش فروزان است
کـه دارد رهـروان راه احـمد «ص» سازآزادی
(برهـمن) را بـود در دیده ودل خار محنت زا
اگـر بیـند مسلمان را برسم وراز آزادی
نباشد فطرت انسان غلامی ، بـردگی ، دونی
امین حق ، بحق گفتنا کـه انس است ، راز آزادی
«حمید»دل بستـه، ایـن بـوستان آسیا زانم
که دارد شاخـه وبـرگ وگیاهش ساز آزادی

کشور تاریخی

محمد حکیم «نظری»

این کشور تاریخـی، ماوای دلیران است
آرامگه مردان، ویـن تـربت افغـان است
انگریزنبود آگـه، کـزغیـرت این ملت
با قدرت وپیکـارش، چنـگیزگریزان است
این خاك شهیدان گلـگلون کفن است آري!
این مدفن شیـران، رزمنـده میـدان است
هـرزاغ وزغـن آیـد زینجا به فرارآخر
کزراي و فااینجا، شهـبازیـه دامان است
سالم نرودهرگزآنـکس کـه تجاوز کرد
بشکسته پاوسر هم بیره ودنـدان اسـت
ابناي سـلحشورش داده سبـق دشمن
درمعرکه بـاانـگریزاین حرف نمایان است
فوج وسپه وتوپ وهم اسـلحه انـگلیس
بشکسته زشمشیرو سـیلاوه وتلخان است
مردوزن ایـن کـشور بـا طینت آزادي
رزمنده به هرخصم و بیـگانه دوران است
دوچارو دو ده بشـمار از شیر حسابش کن
هشت و نـودو دوشـش آزادي افغان است
هرآنکه مسلمان است وزمـلت افغان است
آزادي امـروزي تـبریك به ایشان است
روسان وغـلامـانش از ضربه این ملت
بشـکسته وپـاشیده روسیه میدان است
هرآنکه بـتازانـد انیـجا فرس تسخیر
داندکه چو پیشینان سرگشته پریشان است
این حـدس به آنانیست کز بهر طمع اینجا
بنشسـته نمیـداند، کـین لانه شیران است
بس کن «نظـري» لافـي بیهودگمن هرگز
کـا آزادي واستـقلال از رحمت یزدان است

دا هغه وسلې دی چې مېړنیو او پرځپل هېواد مینو افغانانو دانگریزانو له منظمو اومجهزو پوځونو سره په جگړه کی کار تری اخیست

آزادی

محمد هاشم «سرشك»

روح در معنی پرواز جهان آزادی
نور اندرنگه، چشم زمان آزادی
تن بیمار درختان مصیبت زده را
کن تو بیدار ازین خواب گران آزادی
بلاتیکه به گل ها سخن از عشق زنند
چون نوشد مطلب شان سر وروان آزادی
پرده، راز دریدن وسرآغاز همه
راز دار همه فرموده بدان آزادی
یك قدم رفتن ما به عزران سوگند
که بودزیب لبان وبه زبان آزادی
خون پاکی که شهیدان وطن ریخته اند
لاله روباند ازین پس به خزان آزادی
قطره، آب اسارت نکشم سر هرگز
گر بمیرم زغمت تشنه لبان آزادی

آزادی

شفیع «علیزی»

یو سحر زما ترغوږ شو له بلبله
په قفس کې یې ژړل دایې ویله
چې بندی شوم د صیاد له سخته دله
ولی نه پوښتی څوک حال مې یو له بله
ولې نشته بی فغانه کاروبار زما
ولې حبس ابدی راغی په وار زما
څو ترڅو به یم په دې جورو ستم کې
څوترڅو به یم په اه وپه الم کې
څو ترڅو به په ژړا یم او په غم کې
څو ترڅو به یم په دارنگه ماتم کې
چې امید مې دخلاصی نشته هیڅکله
نو بهتر دی مرگ تردې ژوند یو په سله
که څه نه دی جه ژ ما ته داشان مرگ
ولې ځوان یم او دځوان وی درمان مرگ
خو د ژوند لپاره جه دی ناگمان مرگ
په هزارځله بهتروې ترزندان مرگ
چې دا هرسهار خپل مرگ په قفس وینم
ولې نه مرم چې بیا زه قفس وینم
په هوا د ازادی مې وزر پرې شو
شکر شکر ازاد شوم که مې سر پرې شو
جه چې زه د ازادی په هوا مړ شوم
نه چې پاتې په ذلت د تولو پر شوم

دخپلواکی سنگر

سمیع الله «سمیع»

ســاتـلی مـوږ په سربانډی سنگر دخپلواکی
په ژوند کـې هـر دښمن ته یو لښکر د خپلواکی
ناره د خـپلواکی مو چې (جهان) کې اوریده شی
پرېوتـی پـه جـهان زمـوږ اثـر د خپلواکی
ورځېږو به په ژونـد کې دبـاطـل په سنگرونو
تـیره نـولا په لاس کـې دی خنجر د خپلواکی
په خپله موږه اینبـی د خپـلواک ژوندانه وته
په خپله به یې موږه خـوږو ثـمر دخپلواکی
یـو مـوږتـی یو قوت ورته ولاړ په هرډگر یو
را پیش چې مـوږ ته شـوی کوم خطر د خپلواکی
دا ټن چـې (جـهان) د ښکیلاک گرو نه خوبیږو
جـگړه مـو ورسره ده لا پـه سر دخپلواکی
هرڅوک که قربانی د خپلواکی زمـوږه پـوښتی
شاهد دقربـانـی مـو دی خیبر د خپلواکی
خوښۍ او خوشحالی ته یې راځۍ چې ځان تیار کړو
راځۍ په موږ د سـولـې لوی اختر د خپلواکی

عمل

مرحوم گل پاچاه الفت

هغه خپله اسـا تـکولـه او بازار تـه راغی . په سترگو یې څه نه لیـدل مگر په نامه یې هرڅه پیژندل له ده نه خـپلو ماشـومـانو وځکې غوښتی وې .

دی په همدغه شی پسې راغلی ؤ .

د دنیـا بازار ته ډیر ډانده راغی او څه اخلی . دکـانداران د هغوی په سترگو کې خاورې اچوی او پردی مالونه ورکوی .

ده ته هم دکـاندار له خاورو ډکې وڅکې ورکـړې چې هرڅه ورسره گډ ؤ .

دی روان شـو او په لاره کې یې حشولی له لاسه خوشی شوه .!ده د زمکې پـه مخ لاس وگـرزاوه او هرڅه یې راټول کړه .

دی نه پوهیـده چې خپل کـاله ته څه وړی ؟ او د ده وځکـې څنگه دی ؟

ده غـوندې ډیر ړانده دلتـه راځی او هغـه څه وړی چې د وړلو نه دی .

هو ! د ړاندو عـمل همدغـسې دی مگر ړوند نو له دینه زیات څه کولی شی ړوند که په سمه لاره لاړ نه شی باید معذور یې وگڼو.

از لندن تا کرملین

بقیه صفحه اول

سازد و حکم خویش را بالای آنها جاری نماید اما هیچ وقتی به آرزوهای خویش نرسیدندو آنرا در گورسیاه با خود بردند .

اگر از تاریخ گذشته افغانها بگذریم تنهـا انگریز ها را تحت مطالعه قرار دهیم آن کشوری که در سرزمین آن آفتاب غروب نمیکرد سه بار میخواست تا سرزمین دلاوران افغان را تحت تسلط خویش در آورند اما غافل از اینکه سنگ وچوب ، کوه و کوه پایه ، دشت ودمن وخورد وکلان این سرزمین قوغی میگردد که دامن متجاوزان را به آتش میکشد و راه نجاتی جز فرار برای شان باقی نمی ماند .

قسمیکه تاریخ نشان میدهد در تجاوز اول انگلیس به سرزمین مقدس ما از هجده هزار عسکر اشغالگر فقط یکنفر توانست خود را نیم جان به قرارگاه خویش برساند ، در این جهاد جانبازانی چون «ملامشك عالم» غازی محمد ایوب خان وردگ ، میرمسجدی خان کوهدامنی ، میربچه خان نائب امین الله خان لوگری و در رأس جوان ۲٥ ساله وزیر محمد اکبرخان قرار داشت که در همین جوانی و تدبیر عالی انگریزها رابه فرار مجبور نمود .

جنگ دوم افغان - انگلیس در مقام میوند رخ داد ، انجاکه مجاهدین افغان سرنوشت ملت را انتخاب میکرد با مطالعه تاریخ قامت بلند غازی محمد ایوب خان در این جنگ در مقابل چشمان خواننده مجسم میگردد .

تاریخ سخن میگوید ، مردم سخن میگویند ، از ملالی خواهر قهرمان افغان ها میگوید او بودکه در دشت میوند صدای لاهوتی وملکوتی بلندمیشود ومجاهدین را در مقابل متجاوزین فرامیخواند .

که په میوند کې شهید نه شوی
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

بلی ! جهاد مقدس افغانها جهاد آزادی و حفظ دین خداوندی بود در برابرمتجاوزین انگریز اما شصت سال بعد باز هم شوق وعلاقه ء اشغال پیداشد ، قشون سرخ به امر سردمداران کرملین به طرف جنوب یعنی افغانستان در حرکت شدند تا سرزمین دلاوران را زیر چین تانکهای خویش نماید و از این طریق خود را به آبهای گرم هند برسانند ، اما اینجا بازهم افغانها بودند ، افغانهای که با دستان خالی بخاطر حفظ دین و وطن جهاد مقدس را اعلان کردند ، جهادی را که نتیجه، آن به شکست فاحش کرملین منجر گردید

سیاست تهاجمی ...

زیرا فقدان ثروت و فقر در نظر شان جنایت بوده پس در راه حصول ثروت ، ظلم وفریب را مباح شمرده وروی این ملحوظ آنها ، از قرن ۱۸ در آسیا ، افریقا ، امریکا ، آسترالیا و دیگر جزائر تجاوز نموده و ملیون ها نفوس جوامع بشری را ، برده ، فقیر وناتوان ساخته که از جمله کشور های استعمار شده گشورما هم بود .

سیاست دولت انگلیس در امور افغانستان ، با همه پیچیده گی های ظاهری کـه داشت در هر مرحله با اشکال مختلفه ، سیاست مختلفی را تعقیب میکردند .

وقتیکه انگلیس از سه جانب از راه بحر وارد هند شدند ، صرف یك راه خشکه آن ، در شمال غرب که بحیث دروازه هند باقی مانده بود و آن راه هم بدست افغانها بود و از جانب دیگر انگلیس ها بعد از تماشای جنگ پانی پت احساس کردند که قدرت نظامی و نفوذ معنوی افغانستان در سرتاسر هندوستان بوده و حتی افغان ها بزرگترین رقیب انگلیس در هند شمرده میشوند .

حرکات زمانشان در پنجاب و تمایل هند به استمداد از افغانها ، تشخیص قبلی انگلیس ها را در مورد افغانستان مجسم ساخت .

لهذا تمام قدرت انگلیس متوجه افغانستان شد که در مرحله اول سیاست تدافعی را غرض جلوگیری از ورودولت افغانستان درهند در پیش گرفت . بعداً سیاست آن به سیاست تعرضی تبدیل شد . البته این سیاست هم با تکتیك های متنوعی در معرض اجرا گذاشته شد ،محصول سیاست انگلیس ها این بود که چگونه در افغانستان نفوذ یابد . آیا با توسل به جنگ ، افغانستان را اشغال نماید و یا کشور ها را تجزیه نماید و یا توسط حکومات افغانی مملکت را به شکل پارچه پارچه شده وضعیف و مجزا از جهان و متروك و منزوی نگهدارد ، استقلال سیاسی و ارتباط اورا با دول جهان معدوم نماید .

پس انگلیس ها را مبارزات نظامی ، سیاسی و تبلغاتی خود علیه دولت افغانستان غالب بودند ولی در واقعیت اینطور نبود . وقتیکه حکومات افغانی شمشیر دفاع میگذاشتند ، مردم شمشیر از نیام می کشیدند و دولت انگلیس را با آنهمه قدرتش مغلوب می ساختند ، چنانچه در جنگ اول ملت افغان اردوی انگلیس را با آن همه قدرتش مغلوب ساختند ، چنانچه در در جنگ اول ملت افغان ا و ردوی انگلیس ها را به گروگان گرفتند ونماینده های واقعی مردم درسال ۱۸٤۲ عهد نامه را که خودشان میخواستند تسوید وبالای انگلیس ها به امضا رساندند .همچنان درجنگ دوم ، ملت مجاهد و غیور افغان سپاه انگلیس را درهم شکستند ، جنرال فریدریك را برتس را در چهار دیوار شیر پور کابل مانند مرغ در قفس نگهداشتند . در میوند قشون امپراطوری انگلیس را مانندرمه گوسفند ذبح نمودند و جنراله بر روز ، مانند قاصد پوسته فرار کرد حامیان انگلیس (انگلیس های مسلمانما) از نهیب ملت تاکراچی وهندوستان دم نگرفتند و سرکیر تاری کنترولر افغانستان را قصرش مثل شمعی در کابل سوختن و درجنگ سوم ، ملت باشهامت ما ، چنان انگلیس هارا گوشمالی دادند که حتی ایشان در گوشهای نبیره ، نبیره خود از شهامت ، مردانگی و خود گذری افغانها در مقابل تجاوزات اجنبی ها وصیت نموده اند بالاخره در نتیجه مبارزه را در مردان دلیر افغان ، از تمام قشون مجهز و منظم امپراطوری انگلیس صرف داکتر برایدن در حالت نیم جان وتك تنها با اسپ لاغرش از سرحد شیرآن گذشت .

سادات

مرد هیزم فروشی که...

آنگهی خط مواصله و امداد شان منقطع باشد . انگلیسها آنگاه خط آهن و موتر نداشتند وسپاه شان مجبور بود که از فیروز پور به راه سکر وشکار پور تا کویته و کندهار راه طویلی بپیمایند . در حالیکه درجنگ دوم دگر دولت حایل سکها وجود نداشت و انگلیس همسایه دربه دیوار افغانستان بود . اینك در پشاور دو فرقه سپاه انگلیسی ، درکورمه یك فرقه ودر کویته دوفرقه نظامی حاضر و آماده پیکار بود ، در عقب این سپاه اردوی صد هزار نفری انگلیس قرار داشت کـه با وسایل مخابرات تلگرافی و امور صحی منظم و نقلیات قوی آبرای هر فرقه پانزده هزار نفری ۳٥ هزار حیوان باربری تخصیص داده شده بود . و انجنیری و فابریکه های باروت و گلوله ، وارایه سازی و دوخط آهن مجهز بود

بعد ازآنکه دولت انگلیس به حمله در افغانستان مصمم شد همینکه جواب التیماتوم شان از طرف امیر شیرعلی خان در وقت معین نرسید ، قشون انگلیسی از سه محاذ سرحد افغانستان را عبور نمود :

محاذ کندهار ، محاذ کورمه ومحاذ خیبر .

انگونه کـه تاریخ گواه است . درین جنگ نیز انگلیس ها در هر گوشه و کنار کشور در هرکار زار و میدان جنگ و نبرد و درهرکوه وکوهپایه ودشت و دمن وطن مان و درهر شهر ودهکده، قریه و روستا در برابر رزم وپیکار وحماسه آفرینی و دلیری وبزرگی و والایی و مرادنگی افغانها قرار گرفتند .

انگلیس که هنوز فکر بیهوده تسخیر آیا وطن افغانها را درسر داشت وهنوز خاطره سر افگند گی وشرمساری امپراتوری بزرگش را در برابر کشور به ظاهر کوچك و اما در باطن بزرگ ودژ تسخیر ناپذیر با مردمان نجیبش فراموش نکرده بود ، باردیگر درفکر آشوب و فتنه بر آمد ، تا کوهپایه ها را باخون رنگ زند وهستی خیرو و مردمان نجیب وبا وطنی راکه با قیمت جان از دیار شان دفاع میتساید تاراج نماید . دریغ از خشم خصم ! دریغ از پستی و زبونی پست !دریغ از مکر وحیل به خاطر پیروزی جهل برعلم ! آری جنگ آغاز شد ، امیر شیرعلی خان فرار را برفرار کرد و امر عقب کشی سپاه ورزمنده گان دلیر افغان را صادر کرد .جنگ شعله ورشد و امیر محمد یعقوب خان که نامی به ننگ در دل تاریخ مان از خود به جاگذار ده پس از پدر اردو را منحل کـرد وخـود دردامان انگریز افتاد ومعاهده ننگین گندمك را با انگریز امضا کرد .

و اما در چنین حالات مردان رزم آور و دلاوران کوهساران اعم از فقیر وغنی ، کار دار وبیکار ، صاحب جاه و تهی دست و بی روزگار ، شیخ وعارف ، ملا و روحانی وعسکر و افسر وسردار وسالار و دهقان وصنعتگر رفـه رفـه دست از کـار های دیگر برداشتند وبه رزم وکار زار شتافتند نام این نام آوران فـراوان است و حماسه آفرینی قهرمانی راکه نامش در تاریخ نیامده و اما رشادتش با ذکر محل وقوع حادثه آمده است میخوانیم :

انگلیسها به قوماندانی جنرال سردانلد ستوارت و جنرال مکانیل اس ای پیدولف در ۲۱ نوامبر با دوفرقه عسکر به راه کوژك از کویته به کندهار حمله نمودند..

و امّا پس از انکه با جنگ هایی گوربلایی مردم در عرض راه مواجه گردیدند بالاخره به شهر کندهار فرا رسیدند . درینجا افسران وعسکران انگریز از جانب جوانان سربه کف وشمشیر و سیلاوه به دست کندهاری مورد حملات منفردانه قرار گرفتند

این جوانان رشید وشجاع افسران وعسکرانی را بکشتند و خود نیز باغرور وسر افرازی کشته شدند وبه شهادت رسیدند .

درشهر کندهار سپاه دشمن با عسکر وحشم و سازوبرگ رزمی وارد گردیدند و اما آنان به آرامی به محلات سوق الجیشی شان نرسیدند زیرا هر جوانی از هرگوشه و بیشه بی با دشنه بی برقرق انگریزی فرود میامد و می کشت و کشته میشد .

درین میان مرد هیزم فروشی از قوم غلجایی که باریش سپید وقامت خمیده همراه با دوپسر جوانش به خاطر فروش هیزم ها از دهکده های دور به شهر کندهار وارد آمده بود ، چون عسکران انگلیسی بدید ، اشترها را رها کرده وبرآنان تاخت

«بناز ای مرد که اگر قاتع و پیروز شوی غازی نامندت واگرکشته شوی به خون اندر شهید گردی . آی که هر دومقام بزرگ است و مرد اگرپدین وبابدان مقام دست یابد رستگاری یابد وبه بهشت دست یابد واگربکشد وهم بمرد ،به هر دومقام دست یابد وبزرگواری وراستی وپاکی وصفایی یابد .»

مرد با این پندار دوفرزند جوانش را دونخل باورش را ، دو رفیق و همراه زنده گی وعصای پیری اش را به جنگ با بیگانه بی مایه فراخواند . آنان سیلاوه ها یش تیغ های شانرا از نیام کشیدند و بر عساکر انگلیسی که تفنگ های انگلیسی در دست ، کلاه های آهنی رزمی برسر ، موزه هایی عسکری به پا و در بغل ها و یونیفورم نظام انگریزی به تن داشتند و از گرما وترس و دلهره غرق از صورت های شان جاری بود ، یورش بردند ، کاردها در زیر طلایه خورشید برق زدند و این سه مرد که جز خدا ووطن و کار هیچ چیز و هیچکس را نمیشناختند ، چون شیرانیکه خصم برانه نیاز چشم دوخته باشد ، بر عساکر انگلیس افتادند.

تیغ ها و دشنه ها یکی پی دیگر در دل عساکر انگریز فرود رفت آنان هفت انگلیس را درنهایت خواری کشتندو چهار دیگر را مجروح نمودند .

خون سرخ انگریزها برجاده شهر نقش بست وسیاه شد و اما خون این سه مجاهد وغازی رشید که باگلوله تفنگ های انگریزان دگر کشته شده بودند ،همچنان سرخ ماند.

آنان پس از انکه کشتند و کشته شدند وپس از آنکه به پندار والاشان دست یافتند کلمه خداوند بخواندند وشاهد شهادت گردیدند .

آنان شهید شدند و اما دگران علم جهاد را از کف ندادند ، تا آنکه پس از جنگ های شدید و نبرد های خونین در هرگوشه وطن انگریزها باردگر در کشور شکست خوردند و غازی مردان و مردم افغان پیروز و سر افراز گردیدند .

محمد عاطف «مقدسی»

عکس: قلعه شیرپور ، آن قلعه ءکه درچهار دیوار آن جنرال فریدریك رابرتس انگلیسی مانندمرغی درقفس نگهداشته شده بود

دافغان-انګلیس ددریمی جګړی ...

ګولی بې هم کلا و ویشته .

په افغانانو باندې په جنوبي سيمو کې په توپو او ماشین ګنو برسیره د الوتکو د بریدونو او بمونو په غورځولو او په پښتنی سیمو باندی ډیره کلکه او سخته بمباری شروع کړه ، افغانانو د دوی د الوتکو او دهغو دبمباریو څه پروا ونه ساتله او دهیواد په مینه ، د ننګ اوناموس په مینه او دخپلواکی د ګټلو په مینه بې دهغو بمباریو ته خپلې پولادي سینې او تېر و تیول او دایی ویل : چې دا دخوساهګیو را غورځول په موږ څه اثر نه کوی او جګړه بې پرمخ بوتله ، ډیر ځوانان شهیدان شول ، ځو جنرال دایرهم پاتې راغی او جنګی وزریې زر مات شول ، افغانانو په خپلو مشاپورو ، دمیالپور ، سرپی او چکمکی توپکو د هغو الوتکی وویشتلې چې دا حیرانوونکی کار ؤ :

د انګریزانو د ډیر زیات قهر له امله یوه الوتکه دګران هیواد مرکز (کابل)ته هم د بمونو دګوزارولو او بمباری لپاره هواکی راغله ، د هیواد په مرکز کې د دغې لومړنی الوتکی غورهار چې زباتو پښتنو دجهاز غږ او غورهاری ورته وایه خپلې خواته ځیر کړل ، هرچا په حیرانتیا د الوتکې او جوز خواته ورکتل په لیدو سره یې دا ویل : بـه وشـوه چې انګریزانو ته نور وار پار خطا شو اوس دغه سره شیطان د اوسپنې الوتونکی مرغه را ولېږه په دغه به موږ داروی : دا دی انګریزانو لومړی دالی و ، چې په هواکې د افغانانو سترګې پرې ولګیدې ، په کابل کې هم افغانانو په خپلو لاس لرلو د میالپورو او مشاپورو او سرپی توپکو سره په الوتکې ډزونه وکړل ، د توپکو ډزونو الوتکه ته خوږه او د الوتکی چلوونکی ورخطا شول او هغه چاچې بمونه غورځول دومره بې خپل فکر له لاسه ورکړ چې د سرپو په ځای بې په ځاروپو بمونه وغورځول او الوتکه بې په درنګ کې پنا کړه او له بد حال څخه بې وتښتوله ... افغانانو په دریو وارو محاذونو کې انګریزان مات کړل او جنګ بې په شهادت او وینې تویولو سره وګاټه . افغانانو په سره توره چې په زرګونو زرګونو ځوانان پکې شهیدان شول خپله خپلواکی وګټله کابل او افغانستان ته د لومړی الوتکې او جوز راتله تر اوسه زموږ د ډیرو سپین ږیرو په خولو کې اوری او را اوری ، په بله ژبه د الوتکی راتګ د اول وار لپاره زموږ خاوري ته چې حیرانوونکی خبره ده یادوی او وایی چې انګریزانو داوسپنی مرغه را خوشی کړی ؤ افغانانو د خپلې خپلواکی له ګټلو وروسته څه دمه کړی نـه وه او پوره ستړیا بې ورکـړه نه وه چې دشوروی لښکرو هم د انګریزانو په شان زموږ په خاوره برید وکړ خو د الله تعالی په فضل د افغان ملت په ملی یو والی د انګریز په څیر دوی هم له ډیرې بدی ماتې سره مخامخ شول او لـویه امپراتوری یې په توپونو بدله شـوه او پاتورو او ننګیالیو افغانانو له دوی څخه هم د سرپه سربندئه خپله خپلواکی وګټله ، اوس موږ خپلواک یو ، نو موږ نه دا په کار ده چې دخپلې سیاسی خپلواکی دښانختی په څنګ کې د اقتصادی او ثقافتی خپلواکی د ساتلو او غوړولو لپاره هم هڅې او هـاند وکړو او له خپل ژنګ شوی وران شوی او ویجاړ شوی هیواد او وطن نه په ټوله معنا یو خپلواک ، آزاد او پـه خپلو پښو او ښتنو ولاړ ملک جوړ کړو ، په دې هیله چې :

تـل دې وی افغانستان
تـل دې وی خپلواکی
تـل دې وی زموږ استقلال
تـل دې وی زموږ ملی یووالی
تل دې وی زموږ ورورۍ او
پیوستون

او په دې ولسی متلره او ادبی مرغلره به بې بس کړو :
مسکو ، لندن ،
نیویارک تری حـارشه
د شوربازار کوڅې په
پـوروپ لـه ورکومه

تـوجـه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan